# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# مالداره سړے، غریب سړے



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: M. Maillot; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: M. Maillot; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.



عیسی مسیح ډېر مذهبی مشران پېژندل، چا چې د خدائ پاک نه زیات پېسو سره مینه کوله. هغۀ ووئیل چې مالدار او غریب سړی سره څۀ وشول. او ولې د خدائ پاک نه بغېر مالداره کېدل هغې فضول دی. مالداره کس په آسمان کښې خدائ پاک سره د اوسېدو د پاره ځائ نۀ شی اخستلے.




یو ملداره سړے وو
هغۀ سره ډېر مال
حال وو، او هغۀ به
د یو بادشاه په جامی
اغوستلې.
3


مالداره سړی به ښۀ ښۀ خوراکونه کول. او د هر وخت
ډوډۍ به یې د یو لوئ دعوت په شان وه. هغۀ سره دومره
پېسې وې چې هغۀ به سحر، غرمه او د ماښامې ډوډۍ او د
دې نه علاوه د خوراک د
پاره هر څۀ اخستلے شو.
4


د مالداره سړی د کور دروازې له او غریب، ناجوړه،
اوږے خیر مار راغلو. د هغۀ نوم لعزر وو.
5


هغه غریب ډېر زخمی وو. کیدے شی
چې هغۀ ته څۀ بیماری وه. کیدے شی
چې نورو ته ملاو شوی زخمونه د
هغۀ د پاره معنی لرې. کېدے شی
چې د هغۀ په وجود باندې دا داغونه
د ښو خوراکونو مثلاً د پیو،
سبزیانو او یا د غوښې
نۀ خوړلو په باندې وو.
6


لعزر ته د
خوراک
ضرورت وو.
او د هغۀ مالداره
سړی په
دسترخوان باندې
به چې کومه
ډوډۍ پاتې شوه
نو هغه به په
هغې باندې
خوشحالېدو.
7


کله کله به سپی هم د
هغه غریب او بې وسه
لعزر د پاڅه ناست
وو. هغه سپی
به د هغۀ نه تاوېدل
او د هغۀ زخمونه
به یې ستل. داسې
ښکاری چې چا
هم د هغۀ خیال
ونۀ ساتلو چې لعزر
د لوږ نه ژړل.
8


یو سحر لعزر
غریب، بې
یاره، مدد ګاره،
د خیرمار ژوند
ختم شو. او
لعزر مړ شو.
9


د لعزر د پاره خوشحالی هله شروع
شوه کله چې هغه مړ شو. عیسی مسیح
ووئیل چې فرښتو هغه ابراهیم سره د اوسېدو د پاره
بوتلو. او
خدائ
پاک
هغهٔ له
آرام
ورکړو.
10


هغه مالداره سړے هم مړ شو. او د هغهٔ هغه ټول ما دولت
هغه بچ نهٔ کړے شو. او چې کله هغهٔ له مرګ راغلو نو یو
کس هم هغه بچ نهٔ کړے شو.
11


هغه مالداره سړے دفن کړے شو. کېدے شی چې د هغهٔ
جنازه هم د ټوله نه لویه وه. او کېدے شی چې خلقو هم د
هغه مالداره سړی د هوښیارتیا او کامیابی تعریف کړے
وی. خو د هغوئ هغه تعریفونو د هغوئ مدد ونهٔ
کړے شو. او هغه مالداره
سړے په دوزخ
کښې وو.
12


هغه مالداره سړی په دوزخ کښې چغه کړه چې اے پلاره
ابراهیمه، لعزر ته یې هم چغه کړه چې خپل ګوته په اوبو
کښې دوبه کړه او زما ژبه پرې لونده کړه. ځکه چې زهٔ د
دې اور دا تکلیف نهٔ
شم برداشت کولے.
13


ابراهیم هغه مالداره سړی ته را
په یاد کړل چې تهٔ کله ژوندے
وې نو تا سره ډېر څهٔ وو. او
لعزر سره هیڅ هم نهٔ وو. اوس
لعزر ښهٔ سکون کښې دے او تهٔ
په تکلیف کښې. زمونږ او ستا
ترمینځه ډېر فاصله ده او څوک
هم د دې نه نهٔ شی اوړېدے.
14



مالداره سړی خواست وکړو، چې لعزر
ولیږه چې هغه زما پینځو وروڼو له هم
خبرداره ورکړی. ځکه چې زهٔ هغوئ
په دې تکلیف کښې
نهٔ شم لیدلے.

15



ابراهیم ورته په جواب کښې ووئیل، ستا
وروڼو سره د خدائ پاک کلام شته. کهٔ
چرې ستا پینځهٔ وروڼه په کتاب مقدس
باندې یقین نهٔ ساتی.
نو کهٔ چرې لعزر د
مرګ نه پس هغوئ
له لاړ هم شی نو
هغوئ به بیا هم
یقین نهٔ کوی.

16



کله چې عیسی مسیح د مالدار سړی او د لعزر
قیصئ ختمه کړه. نو کېدے شی چې هغه مذهبی
مشرانو د خپل ځان نه دا پوښتنه کړی وی، چې
آیا زهٔ د خدائ پاک نه زیات مال دولت
سره مینه کوم؟ اوس هغوئ ته پته وه
کهٔ چرې مونږ د خدائ پاک کلام ته
توجو ونهٔ
کړه نو څهٔ
به کیږی.

17

مالداره سړے، غریب سړے

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

لوقا ۱۶

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."

زبور 130:119

18




44 60

19

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ
ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

20